الْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ، خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ، وَفِي كُلٍّ خَيْرٌ،

له أبو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «الْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ، خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ، وَفِي كُلٍّ خَيْرٌ، احْرِصْ عَلَى مَا يَنْفَعُكَ، وَاسْتَعِنْ بِاللهِ وَلَا تَعْجَزْ، وَإِنْ أَصَابَكَ شَيْءٌ، فَلَا تَقُلْ لَوْ أَنِّي فَعَلْتُ كَانَ كَذَا وَكَذَا، وَلَكِنْ قُلْ قَدَرُ اللهِ وَمَا شَاءَ فَعَلَ، فَإِنَّ (لَوْ) تَفْتَحُ عَمَلَ الشَّيْطَانِ». «پياوړی مؤمن الله ته له کمزوري مؤمن څخه خوښ او غوره دی او په دواړو کې خير دی، په هغه څه ټينګار وکړه چې ګټه درته رسوي او د الله تعالى نه مرسته وغواړه، او مه کمزوری کيږه، که چيرته درته څه - زيان - ورسيده نو داسې مه وايه: که چيرته مې داسې کړي وای، نو داسې او داسې به شوي وو، خو ووايه: د الله تقدير دی او هغه چې څه غوښتل هغه يې وکړل؛ ځکه د (که چيرته) کلمه د شيطان کړنې پرانيزي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې: مؤمن ټول خير دی، خو هغه مؤمن چې په خپل ايمان، اراده، مال او د خير په نورو برخو کې پياوړی وي، د الله تعالى په نزد له کمزوي مؤمن څخه غوره او ورته محبوب دی. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم مؤمن ته سپارښتنه کوي چې د دنيا او آخرت په چارو کې د ګټې اخيستنې لپاره اسباب وکاروي، په داسې حال کې چې په الله جل جلاله اعتماد وکړي، له هغه مرسته وغواړي او توکل پرې وکړي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغو کارونو په وړاندې چې په دنيا او اخرت کې ګټه رسوي له کمزور، سست او غفلت څخه منع فرمايلي ده. نو کله چې مؤمن په عمل کې زيار وباسي، اسباب وکاروي، له الله جل جلاله نه مرسته وغواړي او د خير غوښتنه ترې وکړي، بيا دې نو خپل ټول کارونه الله ته وسپاري او په دې دې پوه شي چې د الله تعالى ټاکنه کې خير دی. نو که له هغې نه وروسته ورته کوم مصيبت ورسيږي، داسې دې نه وايي چې: "لو أني فعلتُ كان كذا وكذا"؛ "که داسې مې کړي وای نو داسې او داسې به شوي وو". "ځکه د (که) کلمه په تقدير د نيوکي لپاره د شيطان کړنو ته لار پرانيزي" او په هغه څه پښېمانتيا رامنځته کوي چې له لاسه ورکړل شوی دی، خو د الله تعالى تقدير ته په تسليمېدو سره دې ووايي "د الله پريکړه ده او هغه چې څه وغواړي هغه کوي"، څه چې وشول د الله جل جلاله د خوښې او ارادې سره سم وشول، ببشکه الله جل جلاله هغه ذات دی چې څه وغواړي هغه کوي، د هغه پريکړه لره منع کوونکی او د حکم لره يې تعقيبوونکی نشته.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5493